
ستره هېوادني
جګړه
د سترې هېوادنۍ جګړې څو داستانونه
بوریس پاله وی
ژباړه:ویاړ
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سترې هېوادنۍ جګړې ځو داستانونه

**د بوریس پاله وی او د نورو لیکوالو د څو داستانونو لنډیز**

**دا داستانونه د فاشیزم د وینې څښوونکي دیو په وړاندې د شوروي ولسونو د اتلوالۍ بېلګې ښکاره کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ستره هېوادنۍ جګړه**

بوریس پاله وی

ژباړه: ویاړ

برېښنايي خپرېدنه او بیاکتنه: زمری ۱۴۰۳

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

موږ د شوروي خلک ............................................ ۱
اوبه .......................................... ۱٦
د پارتیزانانو ملګرتیا ............................. ۱۹
سختګیره ښوونکی .............................. ۲۵
د مور اتلوالي ................................... ۳۰
پُستي کڅوړه ..................................... ۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موږ د شوروي خلک

۱۹ کلنه وه؛ آرامه او ډنگره. څېره يې د هلکانو په شان وه.زيړې او ځلاندې سترگې يې نرۍ ته په ښادۍ او حيرانتيا کتلې. ښايسته جامې يې په ځان وې. جبهې ته نژدې د هغه شتون، هغه هم د هغو پوځيانو په مينځ کې، چې زاړه کوټونه يې اغوستې ول، حيرانونکی و.

د اگست آرامه ماښام و. د ختيځ کور د سپين ديوال غاړې ته موږ ناست وو. هغې په ځيرتيا دا کلی، چې په کې قرارگاه وه، تر پام لاندې نيولی و. ټول شيان ورته عجيبه ښکاره کېدل. ناڅاپه زما خوا ته راغله، وې ويل:

- شايد فکر وکړئ، چې ولې په دومره لېوالتيا ټولو شيانو ته گورم! تاسې شايد پوه نشئ. په دې هغه څوک پوهېږي، چې د ډېرې مودې لپاره د خپلو و خپلوانو او دوستانو تر مېنځ نه وي، څوک چې اړ شوی وي خپلې ټولې اړيکې پرې کړي! هغه څوک ورباندې پوهېږي، چې مجبوره شوی وي په وحشي نړۍ کې ژوند وکړي...

ورته کتلې مې.څېره يې نوره هلکانو ته ورته نه وه. سترگې يې آرامې او هوډمنې ښکاره کېدې.

په مخينه يې زه پوهېدم. دې تنکۍ پيغلې د جگړې تر ټولو خطرناکه دنده تر سره کوله. هغه د اطلاعاتو ماموره وه. په هغو ښارونو کې به پاتې کېدله، چې فاشيستانو به نيول.د غليم له پټو نقشو به خبرېده او موږ ته به يې گزارش راکاووه. مستعار نوم يې «برى يوزا» و، د يو نوميالي اوکرائيني پوهاند لور وه. په ماشومتوب کې موسيقي، سندرې او بهرنۍ ژبې زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې او په آسانۍ يې په اوکرائيني، روسي، فرانسوي او الماني ژبو خبرې کولې. د جګړه له پيل سره سم يې خپلې پوهنتوني زده کړې خوشې کړې. او د نرسينګ په برخه کې يې زده کړې پيل کړې، چې په جبهې کې خدمت وکړي. دا دوره يې هم ونشو کړای پای ته ورسوي، ځکه چې دښمن د هرې ورځې په تېرېدو سره ښار ته رانژدې کېده. د جبهې خط د ښار شاوخوا و. ښايي له هغه ځايه تللې وې. پلار او مور يې ورنه وغوښتل، چې ورسره لاړه شي. خو دې و نه منله. غوښتل يې مبارزه وکړي خو څنګه يې پيل کړي؟ په ياد يې شوه، چې په الماني ښه پوهېږي. د سيمې ګوندي کميټې ته لاړه. په ګوندي کميټې کې ټول په کار بوخت ول. پوځيان تلل او راتلل. تلفونونو زنګ وهو، خو «بري» له هغه ځايه را و نه وتله.د منشي خوا ته لاړه او وې ويل چې په روانه الماني غږېدلی شي او غواړي چې يوه جنګي دنده واخلي. د سيمې د کميټې منشي د «بري» سندونه وارزول او وې پوښتل:

- ته په الماني پوهېږې؟

- هو، بېخي د خپلې اوکرائينې ژبې په شان.

منشي ورته وکتل او وې ويل:

- ممکن دنده دې سخته او خطرناکه وي!

- قبولم يې!

منشي يو چا ته تليفون وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اورې، یو څوک مې پیدا کړی، چې په کار مو راځي... هو، په الماني ښه پوهېږي. مور او پلار یې پېژنم. ښه خلک دي. ستا خوا ته به اوس درشي....

د سیمې د کمیټې منشي تلفون کېښود. د انجلۍ سترګو ته یې په ځیرتیا وکتلې او وې ویل:

- ډېر ښه، ته به زموږ له هغو ملګرو سره، چې په ښار کې پاتې کېږي، کار وکړې. شاید پوه نشې چې څه درپېښېږي. هره شېبه امکان لري، چې فاشیستان پوه شي چې ته څوک یې، و به دې وژني.

- پوهېږم. منم یې.

هغه په ښار کې، چې بالاخره المانیانو ونیو، پاتې شوه. المانیانو ته یې وویل چې د یوې شتمنې کورنۍ لور ده او نه غواړي چې خپل کور خوشې او په ختیځ کې یو نامالومه ځای ته لاړه شي.

یو الماني جنرال د پروفیسر په لوی کور کې مېشت شو. جنرال د کور د څښتانه په پېغلې لور زړه وبایلود؛ د شپې لخوا به دواړو پیانو غږوله او د «ګوته» شعرونه به یې په الماني ژبه ویل. جنرال، هغه د قرارګاه له نورو افسرانو سره آشنا کړه. اوس نو هغه له هر هغه څه، چې د المانیانو په قرارګاه کې به تېرېدل، خبرېده. خو هېڅوک نه پوهېدل چې دا ښکلې انجلۍ له ښایسته جامو سره هره اونۍ چېرې ځي. انجلۍ یوه ښکلې کوچنې لمري

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

چترۍ، یو بکس او د «ماین کامپف»* کتاب، چې جنرال ورته ډالۍ کړی و، له ځان سره وړل. پیاده پیاده به د ښار ځنډې ته تلله، د یوه موچي کور ته

به ورتلله، بوټان به یې له بکس څخه راویستل او موچي ته به یې ویل چې ورته یې وګنډي. کله به چې دواړه یوازې شول، ټول هغه څه چې به یې په قرارګاه کې لیدلي او اورېدلي ول، موچي ته به یې ویل. «بري» یوازې دلته، له موچي سره، چې یو اطلاعاتي مامور و، په ښکاره ویلی شول، چې ژوند ورته د فاشیستانو په مینځ کې څومره ستونزمن او له کرکې ډک دی. دلته یې له موچي سره کولای شول، چې ساده او له مینې ډکې خبرې وکړي.

انجلۍ به له خپلې کوچنې څېرې سره، ببرته ښار ته ستنېدله.د ښار په مینځ کې به یې په خوشالۍ لنډه الماني ترانه ویله. ښار مېشتو به په کرکې او په سپکه ورته کتلې. خو انجلۍ به غلې وه. هغه چا ته هم نشو ویلی چې څوک ده، دلته څه کوي او د څه لپاره مبارزه کوي. کار یې په رښتیا چې ډېر ستونزمن و، خو «بري یوزا» ډېر پیاوړي اعصاب لرل او خپل رول یې په ښه ډول لوبو او کار یې ډېر ګټور و، تر دې چې یوه ورځ بده پېښه رامینځته شوه. الماني جنرال «بري یوزا» ته د واده وړاندیز وکړ او یوه شپه په نشئه کې د «بري» کوټې ته لاړ. انجلۍ غوښتل وتېښتي خو وې نشو کړای. جنرال به ویل، چې المانیان نور مسکو ته نژدې شوي او د شوراګانو حکومت پای ته رسېدلی او غواړي له هغه «بري» سره المان ته ستون شي. «بري یوزا» نور ونشو کړای منتظره پاتې شي. د جنرال تپانچه یې راکش کړه...

---

* «زما جګړه» د هیتلر لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه شېبه وروسته د الماني جنرال تنه پر ځمکه پراته وه.

فاشيستانو ورپسې ټول ځايونه ولټول، خو هغه يې پيدا نکړه. «بري يوزا» تري تم شوی وه. هغه د جبهې له کرښې تېره شوی وه.

لږه موده وروسته، دلته په «خارکف» کې، چې المانيانو نيولی و، د «ارناوينر» په نامه يوه انجلۍ راپيدا شوه. هغه ښايسته انجلۍ وه، چې ډېره ښه الماني ورته ياده وه. «ارناوينر» کيسه کوله، چې الماني توکمه پلار يې له انقلاب مخکې ډېر شتمن سړی و، خو له فاشيزم سره د لېوالتيا په ګناه بندي شوی و.

کله چې د «خارکف» الماني قومندان د هغه په مخينه پوه شو، «ارناوينر» ته يې ورانديز وکړ، چې د هغوی ژباړونکې شي.او په دې ډول «بري يوزا» يوځل بيا د المانيانو په قرارګاه کې په کار بوخته شوه.

فاشيستان متوجې شول، چې يو څوک د هغوی پټې نقشې روسانو ته ورکوي. خو هېڅ چا د يوې شېبې لپاره هم په «ارناوينر» شک ونکړ.

اوس نو «بري يوزا» په ډېرو پټو استنطاقونو کې، چېرې چې فاشيستانو د شوروی خلک شکنجه کول، حاضره وه. هغه بايد د شورويانو خبرې له مرګه مخکې ژباړلی وی او سپکې سپورې او سپکاوی يې اورېدلی وی. يوازې له هېواد سره مينه وه، چې هغه ته يې د دې کار ځواک ورکاوه.

د شوروی ځواکونه «خارکف» ته نژدې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی او سخت ازمایښت د «برې یوزا» په تمه و. په دې اړه په خپله برې یوزا، د اګست میاشتې په دې آرامه ماښام کې څه داسې کیسه راته وکړه:

ـ تاسو حتماً پوهېږئ، کله چې زموږ ځواکونه «خارکف» ته نژدې کېدل، فاشیستان ځومره ډارېدل. هغوی کوښښ کاوه، هر څه یې چې کولای شول له ځان سره ویسي: د انځورګرۍ تابلوګانې، د موزیم شیان، فرنیچر او... څه خبرې نه وې چې نه یې کولې. هلته نوره قرارګاه نه وه، یو بازار و. په ځانګړي توګه د شوروی هوايي ځواک په اړه یې ډېرې افسانې ویلې. ویلې چې له «دالنی واستوک»*څخه یو ډول نوې الوتکې الوزي او روسان زرګونه ماشینونه لري! هره شپه به ټولو افسرانو تهکاوي ته پناه وړله، ان زه به هم له دومره ډار حیرانه پاتې کېدم:

ـ ښاغلی تورن، په رښتیا ټول وژل شوي؟ هغوې به بالاخره ما هم ووژني.

تورن سره له دې چې ډارېده، ځواب یې راکړ:

ـ څه وایې پېغلې، المان ډېر پیاوړی دی!!...

بیا یې راته وویل چې ته دا چانس لرې چې له ما سره په موټر کې المان ته لاړه شې.

یوه شپه یې د تورن کوټې ته وغوښتلم، تورن وارخطا و. د کوټې له یوې څنډې بلې څنډې ته تلو راتلو. راته یې وویل اوس یو ډېر مهم استنطاق لرو.

---

* لېرې ختیځ، د شوروي یوه سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوټه کې غیرعادي چمتوالی روان و، د مېز پر سر شراب او میوه ایښودل شوی وو. تپوس مې وکړ:

ـ آیا بل جنرال راغلی دی؟

ـ له دې مهمه خبره ده، ډېره جالبه ده! نن به پوه شو چې روسانو موږ ته څه ډول چمتوالی نیولی دی!

پوهه شوم چې روسی افسر یې نیولی دی. څو شېبې وروسته یې تذکره کوټې ته رادننه کړه. تذکره یې د مېز خوا ته کېښوده. الماني سرتېري د تذکرې شاوخوا ودرېدل، خو تورن دستور ورکړ، چې له کوټې ووځي. زه د کوټې په څنډه کې ناسته وم او لیدلی مې نشول چې په تذکرې کې څوک پروت دی. تورن ترخه موسکا وکړه او له ما یې وغوښتل چې «مېلمه» ته وژباړم چې هغه هم یو پیلوټ دی او د دې پیلوټ په لېدلو خوشاله شوی دی. ومې لیدل چې یو ځوان پیلوټ په تذکره کې پروت دی او سر یې ټپي دی.

تورن وویل:

ـ لطفاً ورته ووایه چې موږ بې وسلې دښمن، دښمن نه شمېرو. ورته ووایه چې په نوي المان کې زړورتیا ته درناوی لري، ورته ته ووایه چې غواړم شراب ورسره وڅښم...

کله چې ما دا خبرې ژباړلې، پیلوټ ما ته وکتلې. په کتنه کې داسې کرکه، انزجار او سپکاوی و، چې کم پاتې و په ژړا شم.

پیلوټ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ورته ووایه چې زه به هېڅ څه و نه وایم او له دې سره به شراب هم نه څښم.

مخ یې دیوال ته واړو.

تورن زیاتې خبرې وکړې. ما هم وژباړلې. خو پیلوټ همغسې مخ دیوال ته پروت او غلې و. بالاخره تورن دستور ورکړ چې پیلوټ بوځئ.

سره له دې چې په هغه شپه ډېره ستړې وم، خو ومې نشو کړای بیده شم. فکر مې کاوه چې پیلوټ راته هره شېبه ګوري. داسې راته ښکارېده چې د هغه کلک او برمناک اواز اورم.

سهار راپسې تورن راغی. په موټر کې یې راته وویل:

- موږ ته دستور راکړل شوی، په هره بیه چې کېږی باید پوه شوو چې روسان څه کوي. موږ ته مالومه شوې چې دا پیلوټ د نوې الوتکې په اړه په ځینو خبرو پوهېږي. باید یې مجبور کړو چې خبرې وکړي. آغلې ته باید زندان ته لاړه شې او ورسره خبرې وکړې. هر څه چې دې زړه کېږي ورته یې ووایه، خو خبرې ته راوباسه چې روسان د څه چمتوالی نیسي؛ که په دې کار کې بریالۍ شوې، مډال تر لاسه کوی.

له دې دستور څخه مې سرغړاوی نشو کولای. له پیلوټ سره دوکسیزه خبرې حتماً ګټورې وې. کولای می شول هغه دمخه پوه کړم.خو راته سخته وه چې خوا ته یې لاړه شم. تاسو خو پوهېږئ، چې دې روسي پیلوټ زما په اړه څه فکر کاوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته سخته وه، خو ځان مې تللو ته مجبور کړ. پيلوټ د پرون پرتله ضعيفه شوې و. سترګې يې زيږې ښکاره کېدې. په کرکه او په سپکه يې راته وکتلې.

د خبرو د شروع کولو لپاره مې وويل:

ـ څنګه يې؟ ډاکټر يې درته راوست؟

پيلوټ وويل:

ـ په خپله ونتوانېدل چې له ما خبرې وباسي، اوس يې خپله سپۍ رالېږلې ده.

زه سره شوم.

ـ د څه لپاره سره کېږې، ستا غوندې کسان بايد سره نشي! فکر کوې چې له المانيانو سره به لاړه شې او زموږ له منګولو به وتېښتې؟ موږ به دې خوښ شوو! په برلين کې به دې پيدا کړو!

کلک کلک وخندېد.

ومې نشو کړای ځان کنترول کړم، په غبږه کې مې ورته ځان ورواچاو او په بنده بنده ژبه مې ورته وويل:

ـ هغوې په څه نه پوهېږي، غواړي د نويو الوتکو په اړه له تا خبرې واخلي. هغوې ډارېږي، په وحشتناکه ډول ډارېږي، څه ورته ونه وايې، هېڅ څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوټ راته په حیرانتیا غوږ و. وموسکېد او په چیغو یې پیل کړ:

ـ ووځه، پلورل شوې سپیه، زه تا ته هېڅ څه نه وایم!

اوږدې چیغې یې ووهلې او بیا یې په آرامه وپوښتل:

ـ ته د شوروي اطلاعاتي ماموره یې؟

ـ هو!

ـ ما وژني؟

ـ هو، که څه ونه وایی.

ـ بیا نو زما ژوند لنډ دی. خواشینی یم، کاش ژوندی پاتې شوی وی.

ـ غواړې خپل هېواد ته کوم پیغام ولېږی؟

ـ زه درباندې اعتماد لرم... ستا سترګې ښځي... تقریباً.... نه، پرېږده، څه نه وایم. همداسې ښه ده. هم ستا لپاره، هم زما لپاره. د تل لپاره خدای په امان....

هغه بیا په اوچت غږ سپکې سپورې شروع کړې، چې المانیان څه ته متوجې نشي. کم پاتې و چې وژاړم. څه یو ستر انسان و! په رښتیا چې یو ستر انسان و!

هېڅ مرسته مې ورسره نشو کولای... منډو ته مې منډه کړه. تورن په انګړ کې ګرځېده. په ژړا شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن په وېرې او تښتېدلې رنګ راته وویل:

ـ مه ژاړه، ته په دنده بوخته یې. چې په کار مو رانشي، وژنو یې.

په یاد نلرم چې څنګه له زندان څخه راووتم.

هغه غلې شوه. ډېر وخت غلې وه.

ـ ډېره سخته ده چې په اړه یې وغږېږم، خو غواړم ټوله دنیا پوه شي چې د شوروی ولس له المانیانو سره څنګه چلند کاوه. هېڅوک، پرته له ما د دې پیلوټ د ژوند له وروستیو شېبو خبر نلري. په زندان کې د هغه د وروستیو خبرو وروسته، ګواکې چې ټوله ورځ په خره کې ګرځېدلم.

مخې ته مې لا وحشتناکه موضوع پراته وه. شاید تاسې زموږ د ځینو کارونو په اړه پوه شئ. زه تازه کاره نه وم، خو دا په ټولو ازمایښتونو کې ما ته تر ټولو سخت ازمایښت و.

د هوايي ځواکونو یو جنرال راغی. هغه د فاشیستانو اتل او د ګورینګ محبوب و. پرېکړه یې وکړه چې په خپله له پیلوټ څخه پلټنې وکړي. جنرال ښایسته او دنګه ونه یې لرله او په خپله زندان ته راغی. پیلوټ ته ورغی او لاس یې وراوږد کړ. پیلوټ ورته شا واړوله او ځواب یې ورنکړ.

ـ ځوانه دا چلند دې ښه نه دی! زه جنرال یم. د دوو جګړو قهرمان یم. ته نه پوهېږې چې د سرتېرې شرافت څه ته وایي...

دا جمله مې وژباړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوټ په کرکه وویل:

ـ ته څنګه له شرافته غړېدلی شی.

د پیلوټ دا خبره مې وژباړله. جنرال ځواب ورنکړ، بیا یې پوښتنه وکړه:

ـ ولې دومره سرتمبه یې؟ زموږ له ډاکټرانو خوښ نه یې؟ ووایه، چې دستور ورکړم هر څه ته چې اړتیا لرې درته برابر یې کړي.اتل،اتل دی ان که دښمن وي.

پیلوټ په ستومانۍ سره ځواب ورکړ:

ـ تپوس ترې وکړه چې له ما څه غواړي؟

پیلوټ ټپي و، حتماً ډیر درد یې لرو، خو نه یې غوښتل چې دې موضوع ته د دښمنانو پام شي. د الماني جنرال حوصله نوره ختمېده:

ـ ورته ووایه، باید انتخاب وکړي؛ یا د نویو الوتکو په اړه مالومات راکړي؛ موږ ډاډ ورکوو چې روسان به هېڅکله په دې اړه پوه نشي او د جګړې تر پای پورې به په آرامۍ او هوساینې ژوند وکړي، او یا دا چې باید ووژل شي.

د جنرال خبرې مې وژباړلې. پیلوټ په خندا شو.

جنرال ادامه ورکړه پیلوټ ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د یو سرتېري په شان راته ووایه، چې روسان د شاتګ پر وخت ولې خپل کورونه سېزي؟ مري خو خپلې پټې نقشې نه ښکاره کوي، ان کله چې دښمنان یې هم بریالي کېږي.

پیلوټ ځواب ورکړ:

ـ ولې؟ د دې لپاره چې موږ د شوروي وګړي یوو.

له همدې خبرې سره فاشیستان ورباندې راتوې شول او ډېر سخت یې ووهو. زه یې تر څنګه ودرېدلې وم. پوهېږئ! ما لیدل چې څنګه دې ځناورانو دا ټپي، خو شریف انسان، ښه انسان، چې ما تر اوسه پورې داسې کس لیدلی نه و؛ وهو. ډېر مې غوښتل ورسره مرسته وکړم.غوښتل مې ورسره مړه شم. له مرګ نه ډارېدم، نه ډارېدم! خو په دې پوهېدم چې دا کار د ولس لپاره لازم دی، حق می نه درلوده چې ځان ښکاره کړم. که ځان مې ښکاره کړی وی نو زموږ ځواکونه نه پوهېدل چې فاشیستان څه ډول نقشې لري. هماغه ورځ وه، چې د یوې یوازینې واقعي اتلې عمل می تر سره کړ. ځان مې ورته په غېږه کې وانچو، چیغې مې ونه وهلې. هغوې پیلوټ زما د سترګو په وړاندې وواژه. ناپېژانده پیلوټ په مېړانې، زړورتیا او په غرور ووژل شو. د کوټې ور او دیوالونه له وینو ډک شوي وو. خو ما خپل ځان ښکاره نکړ او خپل کار ته مې تر هغې ادامه ورکړه، چې زموږ ځواکونو بېرته «خارکف» ونیو. زه ان نه پوهېدم چې د پیلوټ نوم څه دی، اوس هم نه پوهېږم. خو هېڅکله یې هېرولی نشم، هغه به تل زما مخ  ته وي؛ پایند، زړوور، پرتمین!

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجلۍ خپله خبره په لاسونو پټه او په ژړا شوه.

تپوس مې ترې وکړ:

ـ اوس څه خيال لرې، چې څه وکړې؟

سر يې راپورته کړ. خبره يې زيږه او هوډمنه ښکارېده.

ـ يو څو ورځې دمه کوم. بيا ورځم. جګړه لا پای ته نه ده رسېدلې.

ـ هلته؟ له دومره ستونزو وروسته؟

ـ هو، په هغه ورځ پيلوټ ويلي وو:«موږ د شوروي وګړي يوو.» زه به د هغه دا خبره هېڅکله هېره نکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوبه

د ۱۹۴۱ کال په دوبي کې فاشیستان «اودسا» ته نژدې شوي ول. له ښاره دفاع ډېره سخته وه، ځکه چې فاشیستانو له لوېدیځ، شمال او ختیځ څخه بریدونه کول. په سوېل کې هم سیند بهېده.

«اودسا» د څښلو اوبه نلرلې. د ښار اوبه له هغې ټانکۍ چې ښار ته نژدې وه، پوره کېدې او ټانکۍ هم د فاشیستانو په لاس کې وه.

دغه کال، ډېر تود کال و او بې له اوبو ژوند په سختۍ تېرېده. په خپله «اودسا» کې کارګران او سرتېري د نوې ټانکۍ په جوړېدو بوخت ول. هغوې کوښښ کاوه چې ډېر ژر دا ټانکۍ جوړه شي. خو ټول پوهېدل چې ټانکۍ به له یوې اونۍ مخکې چمتو نشي. زرګونو ماشومانو له تندې ژړلې او اوبه یې غوښتلې. خو اوبه نه وې. له دې امله د شوروي پوځ جنرال، چې د «اودسا» دفاع یې په غاړه درلودله، تصمیم ونیو چې د سرتېرو یوه کوچنۍ ډله پخوانۍ ټانکۍ ته، چې د فاشیستانو په لاس کې وه، ولېږي. دا ډله ښایي ټانکۍ ونیسي، ماشینونه په کار واچوي، ښار ته اوبه برابرې کړي او څو ګړۍ له فاشیستانو سره وجنګېږي چې ښار ته په دغه وخت کې اوبه راورسېږي.

شپې هغه ببړۍ، چې شل سرتېري او دوه افسران په کې ناست ول، له ساحله روانه شوه. ټول داوطلبان ول. ټول ښه پوهېدل چې څه باید وکړي. په دې پوهېدل چې د مرګ خوا ته روان دي. داوطلبان په بریالیتوب ټانکۍ سره نژدې ساحل ته ورسېدل. فاشیستان ورته متوجې نشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس باید هغه کارگران پیدا کړي، چې ماشینونه ولګوي او اوبه راخلاصې کړي.داوطلبانو د هغو کارګرانو په هستوګنځي پوهېدل، چې مخکې یې په ټانکۍ کې کار کاوه. یو تن یې کارګرانو پسې لاړ او د ښار سخت وضعیت یې ورته تشریح کړ. د وضعیت په اورېدلو سره پېنځو کارګرانو ومنله چې له داوطلبانو سره مرسته وکړي.

هغوې ټانکۍ ته لاړ. له ټانکۍ سره دوه فاشیستان ودرېدلي ول. داوطلبانو د هغوې په وژنې سره ټانکۍ ونیوله.کارګرانو په بیړې ماشینونه په کار واچول. د څښلو اوبه اودسا ته وبهېدلې او تر ځمکې لاندې پیپونو کې روانې شوې. یوه ګړۍ وروسته فاشیستانو پر ټانکۍ یرغل راوړ. جګړه پیل شوه.

فاشیستان ډېر زیات ول. خو وې نشو کړای چې سملاسي ټانکې بېرته ونیسي. جګړه د څو ساعتونو لپاره روانه وه. فاشیستانو یوازې هغه وخت ټانکۍ بېرته تصرف کړه، چې ټول داوطلبان او کارګران وژل شوي ول.

اوبه د «اودسا» کورونو ته ورسېدلې، سطلونه او د حمام بوکې یې ډکې کړې... او بیا ناڅاپه بندې شوې. او په دې ډول ښار له اوبو ډک او زرګونه ماشومان وژغورل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پارتیزانانو ملګرتیا

دا پیښه د سترې هېوادنۍ جګړې پر مهال رامینځته شوه. ولادیمیر ګودف د شوروي سرتېری په جګړه کې ټپي او اسیر شو. هغه یوه موده په المان کې زنداني و. فاشیستانو ټول اسیران په ببړۍ کې سپاره او ناروی ته ویوړل. هلته یو زندان و، چې د پنډغالي بڼه یې لرله. فاشیستانو څنګه چې اسیران پنډغالي ته بوتلل، دستور یې ورکړ چې د زندان په انګړ کې منډې ووهي. څو ورځې کېدې چې اسیرانو تقریباً څه خوړلي نه وو. له منډې څه شېبه وروسته ډېر زندانیان پر ځمکه ولېدل. هر څوک چې به پر ځمکه ولېدو په مردکي به ویشتل کېدو. هغو اسیرانو چې وکړای شول یو کیلومتر منډه ووهي، ژوندي پاتې شول. ګودُف هم ژوندی پاتې شو.

ګودف شپې غزېدلې له ځان سره فکر کاوه:

ـ باید ژوندي پاتې شوو، ژوندي پاتې شوو او غچ واخلو!

فاشیستانو هره ورځ اسیران اړ ایستل د غره څوکي ته پورته شي. اسیرانو ښايي هلته واټ جوړ کړی وی. هرځل به چې اسیران له کلي تېرېدل، د سیمې خلکو به کوښښ کاوه ورته په پټه ډوډۍ ورکړي.

نارویجي ګارګران هم په واټ جوړونې بوخت ول. ډېرې یې کمونیستان ول. یوه ورځ یو کارګر په پټه ګودف ته اره ورکړه او وې ویل:

ـ فاشیستان سبا تاسو په اورګاړي کې بل ځای ته بیايي. دا اره ده. کوښښ وکړه چې د اورګاړي د ډبې دیوال اره کړی، د ډبې په منځ کې سوری جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی او ځنګل ته وتښتي. پارتیزانان له دې خبر دي او ځنګل ته درپسې راځي.

فاشیستانو، غرمې اسیران په اورګاړي کې سپاره کړل. ګودف په پټه خپلو دوستانو ته وویل، غواړي وتښتي او له نورو اسیرانو سره مرسته وکړي.

پرېکړه وشوه چې څلور نور جنګیالي له هغه سره وتښتي. شپې، ګودف د ډبې په دیوال کې سوری وکړ.کله چې اورګاړی په غرنۍ لاره کې ورو ورو مزل کاوه، ګودف او څلورو نورو ملګرو یې له ډبې نه بهر ودانګلې. شپېې وروسته ټول په ځنګل کې ول.

پوره شپږ ورځې په ځنګله کې پټ ول او نارویجي پارتیزانان ورپسې ګرځېدل. پارتیزانانو بالاخره هغوې پیدا کړل. نارویجیان او روسان له یوبل سره اوږه په اوږه په یوې پارتیزاني ډله کې د المانیانو په وړاندې په جګړه بوخت شول. یوه ورځ د پارتیزانانو د ډلې قوماندان، «ګودف» راوغوښت او دستور یې ورکړ:

ـ تاسې باید د تیلو زېرمه له منځه ویسئ. ته او «برسن» باید دا کار وکړئ. هغه په روسۍ ژبه پوهېږي. ګودف او برسن له غرنۍ لارې لاړل. بالاخره کلي ته نژدې شول. د تیلو زېرمه، چې باید ویجاړه شوې وې، په همدې کلي کې وې.هغوې په ځنګل کې کلي ته نژدې پټ شول.

ګودف د شپې لخوا د ځمکې د اکتشاف لپاره لاړ او برسن په ځنګله کې پاتې شو. ګودف په پټه زېرمې ته نژدې او په څارنې یې بوخت شو. د زیرمې د احاطې د دروازې تر څنګ یوازې یو ساتونکی ودرېدلی و. د تیلو پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټانکرونه شېبه په شېبه زېرمې ته رانژدې کېدل. ساتونکي ور خلاصو او تړو. د گودف پام شو چې ساتونکی د موټرو سندونه نه گوري.

گودف، خپل ملگري ته راستون شو او څه چې يې ليدلي وو، ورته يې وويل. هغوی د برید نقشه جوړه کړه. تر دې وروسته گودف او برسن واټ ته نژدې پټ شول، هغوی داسې يو گاړي ته په انتظار کې ول، چې يوازې په کې ډريور وي. بالاخره داسې گاړی راورسېد او کله چې د دوی له څنگه تېرېده، برسن دننه گاړي ته ورودانگلې او په يوې ضربې يې چلوونکی وواژه. بيا دواړه پارتيزانان په گاړي کې کښېنستل او د زېرمې په لور روان شول. کله چې زيرمې ته ورسېدل، ساتونکي دروازه خلاصه کړه او گاړی د زېرمې احاطې ته ننوت. گودف او برسن له گاړی راکښته شول و د تيلو زېرمې ته يې څو نارنجکه واچول. د غټې چاودنې غړ پورته شو. د تيلو زېرمه ويجاړه شوې وه، پارتيزانان بېرته گاړي کې کښېنستل او د ستنېدو لار يې ونيوله.

شېبه وروسته، گودف يو گاړی وليد چې هغوی پسې راروان دی او فاشيستان په کې ناست دي. فاشيستانو په ډزو پيل کړې. د هغوی گاړی د پارتيزانانو له گاړي گړندی و. گودف، برسن ته وويل:

ـ گړندی شه! فاشيستان موږ ته رانژدې کېږي. برسن ځواب ورکړ:

ـ له دې تېز حرکت کولای نشو!

فاشيستانو ډزې کولې. برسن ټپي شو، خو لا يې گاړی چلوو. شېبه وروسته فاشيستان بېخي هغوی ته نژدې شول. گودف وړانديز وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ باید گاړی خوشې او ځنګله ته منډې کړو.

برسن وویل:

ـ زه منډه وهلی نشم، ټپي یم. ته یوازې لاړ شه. زه همداسې ګاړی چلوم.

ګودف فکر وکړ:

ـ «څه باید وکړم؟ څنګه هم جنګیاله ملګری وژغورم؟»

ناڅاپه یې یو ښه فکر وکړ، برسن ته یې وویل:

ـ هر کله دې چې د چاودنې غږ واورېد، ګاړی ودروه.

ګودف له ګاړي څخه ودانګلې، د یوې غټې ډبرې شاته، چې د واټ تر څنګ پراته وه، پټ او فاشیستانو ته منتظر پاتې شو. کله چې د فاشیستانو ګاړی بېخي رانژدې شو، ګودف د هغه لورې ته درې نارنجکه ګوځار کړل. د فاشیستانو ګاړی له مینځه لاړ.

برسن چې د چاودنې غږ واورېد ګاړی یې ودرو. ګودف ګاړي ته منډه کړه او د برسن تر څنګ کښېناست. ګاړي حرکت وکړ، دوه کیلومتره وروسته یې ګاړی ودرو او دواړو جنګیالیو د غرونو لاره ونیوله. لا څو متره تللي نه و، چې برسن پر ځمکه ولېد. هغه نور تللی نشو. ګودف په شا کړ او خپله لاره یې ونیوله. له دوو ورځو وروسته، هغوې له خپلې ډلې سره یوځای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروېجيان او روسان د جګړې تر پایې پورې له يو بل سره اوږه په اوږه جنګېدل. جګړه پای ته ورسېده.ګودف خپل هېواد ته راستون شو. پارتيزانان د هغه د هرکلي لپاره بندر ته راغلل.

کلونه تېر شول. خو ناروېجيانو ګودف هېر نکړ. هغوې يو بل ته اکثراً د ملګرتيا او د مينې ډک ليکونه لېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سختګیره ښوونکی

دا پېښه د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال په ققفاز کې تر سره شوه. زه په ۱۹۴۲ کال کې جبهې ته لاړم. ۱۸ کلن وم. قوماندان مو سختګیره او قهرجن سړی و. هغه په کراتو راته ویل، چې زه یو بد سرتېری یم. په رښتیا هم هغه وخت، لا یو بد سرتېری وم. خو د قوماندان خبرې راباندې بدې لګېدی او راته ګران نه و. یوه ورځ قوماندان له ما وپوښتلې:

ـ ته ډیپلوم لرې؟

ـ هو.

ـ کوم مضمون دې خوښېدو؟

ـ ریاضي.

قوماندان وویل:

ـ ما له جګړې مخکې د ریاضي درس ورکاو.

ـ زما ریاضي ډېره خوښېږي.

مور د ریاضیاتو په اړه خبرې اترې پیل کړې. له دې وروسته اکثراً مو د ریاضیاتو په اړه خبرې کولې او کله به مو په دې اړه بحث هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه شپه قوماندان د دښمن د مورچل، چې د سيند بلې غاړې ته و، د نابودولو دستور تر لاسه کړ. موږ په لامبو له سينده تېر شوو. پينځه کسه وو. زما دوو ملګرو کوښښ وکړ مورچل ته نژدې شي، خو ووژل شول.

قوماندان وويل:

ـ تاسې نور وژلو ته ورکولی نشم. درې کارتوسه په دې خولۍ کې ږدم. دوه کارتوسه تش دي، خو يو يې ډک دی. هر چا چې ډک کارتوس راواخيست بايد د دښمن مورچل له مينځه ويسي. موږ درې کارتوسه په خولۍکې کېښودل. ملګري مې يو کارتوس له خولۍ راواخيست، تش و.د قوماندان وار شو، هغه له خولۍ يو کارتوس راواخيست، ورته ته يې وکتلې او بيا يې اوبو ته واچو. قوماندان ورو وويل:

ـ کارتوس ډک و. زه بايد پر مورچل بريد وکړم.

په خولۍ کې يو کارتوس لا پاتې و، زما کارتوس. خو قوماندان راواخيست او ژر يې تر يوې ډبرې لاندې کېښود. هغه وخت ما دې موضوع ته دومره پام ونکړ.

قوماندان درې لاسي بمونه راواخيستل او د مورچل په لور روان شو. فاشيستانو په ډزو پيل کړی، خو قوماندان د مورچل په نابودولو کې بريالی شو. وروسته له دې زموږ سرتېرو، چې د سيند په بله غاړه کې ول، بې ځنډه يې پرمختګ پيل کړ. موږ له نورو ملګرو سره د مورچل خوا ته منډې کړې. د نابود شوي مورچل تر څنګ قوماندان ولېدلی و. هغه وژل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه تېر شول. زه د رياضي ښوونکی شوم او د تدريس لپاره هماغه ځای ته لاړم ،چې يو وخت په کې جنګېدلی وم. يوه ورځ له زده کوونکو سره د ګروپي چکر لپاره غره ته لاړو. غرمې، د سيند په څنډه کې تم شوو. زده کوونکو د اور بلولو لپاره د لرګيو راټولول پيل کړل. هغوئ ناڅاپه د بوټو په مينځ کې يو زوړ او ويجاړ ګاړی وليد. ښکاره وه چې دا ګاړی د جګړې له وخته هلته پاتې شوی و. د موټر له لټون وروسته، هلکانو د څرمنې يوه کڅوړه پيدا کړه. پر کڅوړې ۱۸۲۲ ګڼه تر سترګو کېده، په کې ليکونه وو. کله چې هلکانو کڅوړه ماته راوړه، ډېر مې ورته پام واوښت: ۱۸۲۲ زموږ د قرارګاه شمېره وه! زده کوونکو ته مې وويل:

ـ هلکانو، دا د جبهې ليکونه دي. زه دلته جنګېدلی يم. داسې ښکاري دا ليکونه ۱۵ کاله کېږي چې دلته پراته دي!

د ليکونو په کتلو بوخت شوو، ناڅاپي سترګې مې په هغه ليک ولګېدې، چې ورباندې زما د مور پته ليکل شوې وه! ليک مې ولوست. زما قوماندان ليکلي وو:

«ګرانه ښاغليه ميخايلوونا! دا ليک ستا د زوي قوماندان تا ته درلېږي. زه ښوونکی يم او د هر ښوونکي په شان يو ګران زده کوونکی لرم. زما ګران زده کوونکی ستا زوي دی. هغه فوق العاده په رياضي پوهېږي او فکر کوم چې پوهنې ته به ډېر خدمت وکړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک مې څو کرتې ولوست. ټوله شپه خوب نه راتلو. سهار بیا هماغه ځای ته لاړم، چې قوماندان په کې وژل شوی و. ټول څه چې په هغه غرمه تېر شوي وو، راپه یاد مې کړل.

ناڅاپه په فکر کې مې وګرځېدل:« قوماندان ولې زما کارتوس د تیږې لاندې کېښود؟» تیږه مې پیدا کړه او کارتوس می راواخیست... کارتوس ډک و! زما کارتوس ډک و! په ټوله خبره پوه شوم....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مور اتلوالي

ستره هېوادنۍ جګړه روانه وه. د شوروي پوځ د «اودسا» ښار ته نژدې جنګېده. د سرتېرو ميندی، خويندې او مېرمنې به اکثراً له ښاره د هغوئ ليدنې ته راتلل او له ځان سره به يې کبان، انګور او شيدې راوړلې.

مېرمنې د همولايتي قوماندان په دفتر کې په تمه پاتې کېدی او انتظار يې ويستو. سرتېري دستي د هغوئ له راتګه خبرېدل او نيمه ګړۍ وروسته به ټول وريت کبان او انګور خلاصېدل.

يوه مېرمن چې دنګه ونه، تورې او تېرې سترګې درلودې، اکثراً به د سرتېرو څنګ ته راتلله. سرتېري پوهېدل چې هغه کب نيونکې ده او د سيند په څنډو کې ژوند کوي. خاوند يې په يوه توپاني ورځ، په سيند کې ډوب شوی و او يوازينی زوي يې «الکساندر پتلين» د هغوئ د ډلې سرتېری و... د دې مېرمن نوم «ماريا واسيليونا» و. يوه ښه ښځه وه. سرتېرو ته ګرانه وه او په ډېرې سادګۍ سره يې ورته د «مور» غږ کاوه. کله به چې «مور» رارسېدله لومړۍ پوښتنه يې دا وه:

ـ هغه څنګه دی؟

ټول پوهېدل چې مور د خپل زوي پوښتنه کوي، نو ځواب به يې ورکاو:

ـ ژوندی دی مورې، ژوندی دی.

مور به وموسکېده. سرتېرو به د ښار په اړه او د هغې د خپلوانو په اړه پوښتنې کولې. ماريا واسيليونا به تل له ځان سره ښادي او آرامتيا راوړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور به د خپل زوي تر څنګ کښېناسته او دوه کسي به په خبرو بوختېدل. کله به الکساندر ګیتار غږاوه او سندرې به یې ویلې. مینه ناک او تود غږ یې درلود. سرتېرو به د هغه آواز ته غوږ ایښودو او د خپلو کورنیو، سیند او د خپلو شازدګیو ښار، «اودسا» په فکر کې به تلل... هو دې اکتشافي سرتېري ښه آواز درلود، الکساندر یو واقعي انسان و او ملګرو ورته درناوی درلود. الکساندر د خپلې مور په شان و. د هغې په شان یې دنګه اونه لرله او لاسونه یې د کب نیونکیو په شان پیاوړي او ځواکمن ول.

یوه ورځ دوه دوستان یانې «الکساندر پتلین» او «میخائیل استریلکف» د اکتشاف لپاره لاړل. میخائیل یو آرام او غلی سړی و. هغوئ ښایي د شپې له دوو بجو وروسته بېرته راستانه شوی وی. خو دوه، دری، څلور ساعته تېر شول.... شپه پای ته ورسېده، خو اکتشافي ډله راستانه نشوه. سرتېري د هغوئ د راستنېدو په تمه او سترګې په لاره ول. خو د راستنېدنې هیڅ څرک نه لګېده. ناڅاپه د چاودنې غږ واورېدل شو. بیا ډزې وشوې، بیا د چاودنې غږ واورېدل شو او بیا آرامتیا واکمنه شوه. یو تن سرتېري وویل:

ـ ماین وچاودېد...

بل ځواب ورکړ:

ـ شاید لاسي بم وي...

ـ امکان لري چې کشفوونکي له کومې پېښې سره مخامخ شوي وي؟

قوماندان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ صبر به وکړو چې رڼا شي. بیا به وګورو.

لږه شېبه وروسته رڼا شوه. ناڅاپه یو سرتېري ناره کړه:

ـ ملګری قوماندانه! وګورئ. وګورئ. هغه هلته غزېدلی دی.

په ورشو کې د شورویانو او فاشیستانو د مورچلونو تر مینځ، یو سړی پر مځکه غزېدلی پروت و.

ـ هو، احتمالاً چې په خپله دی.

ـ څوک؟

ـ استریلکف. داسې ښکاري چې وژل شوی وي.

ـ نو الکساندر چېرې دی؟

قوماندان په دوربین کې وکتلې:

ـ نه یې وینم.

ناڅاپه د قوماندان سترګې په الکساندر ولګېدلې. هغه ورو ورو د شوروي مورچلونو په لور خوځېده. یوه شېبه یې ځنډ وکړ. بیا یې خپل لاس پورته کړ او بېرته یې راکښته کړ او بیا یې پورته کړ. سرتېري د هغه علامت ته متوجې شول.

ـ کمک غواړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرتېرو غوښتل ورمنډه کړي، خو قوماندان نارې کړې:

ـ چېرې؟ ودرېږئ! اجازه نشته چې ورشئ.

ـ ملګری قوماندانه! ګورئ چې ملګري مو هلته دي!

قوماندان څه و نه ویل. بیا یې ناره کړه:

ـ الکساندر! ساشا! څملئ! حرکت مه کوئ! وژل کېږئ!

په دې وخت کې دښمنانو بیا ډزې پیل کړې. سرتېري پوه شول چې قوماندان په حقه و، که د هغوئ مرستې لپاره تللې وې، وژل کېدل. یو سرتېري وویل:

ـ هغوئ وژل کېږي! ګورئ چې ټپیان دي...

چوپتیا واکمنه شوه. ناڅاپه ټولو یو ښځینه آواز واورېد:

ـ پرېږدئ چې زه لاړه شم!... پرېږدئ چې زه لاړه شم!

دا ماریا واسیلیونا وه. نه پوهېدو څنګه یې ځان دلته، مورچل ته رارسولی و. قوماندان ورته اجازه نه ورکوله او ورته یې وویل:

ـ امکان نلري مورې، تا وژني!

خو ماریا واسیلیونا په دې خبرو غوږ نه ګرو. هغه له مورچله ووتله او په دنګې ونې سره هغه ځای ته روانه شوه، چې زوي هلته پروت و. سرتېري منتظر ول چې څه به پېښ شي. دښمنان د دې ښځې په لیدو سره، چې په زړورتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د مردكيو هركلى كاوه، له ډزو لاس په سر شول. هغوئ ته هم حېرانونكى وه، خو ماريا واسيليونا د تل په شان كلكه او آرامه په لاره تلله، همداسې مخ ته روانه وه. زوي ته نژدې شوه، اوبه يې وركړې.

ـ زويه اوڅښه... آراموي دې.

دښمنانو له سره ډزې شروع كړې. ساشا وپوښتلې:

ـ ميخائيل څنګه دی؟... ژوندی دی؟

ـ هو، ژوندی دی. هلته پروت دی.

ډزو ادامه درلوده. خو ماريا واسيليونا په ډزو هېڅ پام ونكړ. مور زوي ته وويل:

ـ همدلته آرامه وغځېږه. مردكي تا ته نه رارسېږي. زه د ميخائيل خوا ته ځم. هغه هم تږی دی. ګرانه اورئ څه درته وايم؟

ـ هو مورې! ځه....

ډزې لا سختې شوې. مور په اوچت آواز وويل:

ـ خدای پامان

مور د ميخائيل خوا ته روانه شوه. ميخائيل ته نژدې شوه او ودرېده. بيا يې لېرې غاړې ته وكتلې، چېرې چې د اودسا ښار پروت و...مور د ميخائيل تر څنګ پر ځمكه وغځېدله. سرتېرو له يو بل نه تپوس كاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ څه کوي!؟

دښمنانو ډزو ته ادامه ورکړه. خو دا ځل مردکي بېخي د مور او میخائیل له ځنګه تېرېدل. فاشیستانو پر هغه ځای ډزې کولې چې ماریا واسیلیونا په کې غځېدلې وه. مور بې حرکته پراته وه. سرتېري پوه شول چې مور ولې هلته غځېدلې ده. هغه غځېدلې وه چې له خپلې تنې سره میخائیل له ډزو وساتي. میخائیل د هغې زوي نه و، خو هغې ټول سرتېري خپل زامن ګڼل. مور له مرګه نه ډارېده، ځکه د مور مینه له مرګ پیاوړې ده.

شپې سرتېرو، مور او دوه ټيپي کشفوونکي سرتېري، الکساندر او میخائیل مورچلونو ته راوستل. د ماریا واسیلیونا بدن په مردکیو سوری سوری شوی و. سرتېرو، اودسا ته نژدې ورشو کې مور ښخه کړه.

کله که ستاسو د ادوسا نژدې ورشو ته مخه شوه او هلته مو یو وړکی قبر ولید، لږ ځنډ شئ، شاید دا قبر د ماریا واسیلیونا وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پُستي کڅوړه

د جګړې په ورځو، نوميالي مخترع، د ميکانيک انجينير «فيودور پاولويچ کيروشين» په لنينګراد کې ژوند کاوه او په يوې کوچنې کارخانې کې کار کاوه. د جګړې په پيل کې يې غوښتل دا کارخانه سيبري ته ولېږدوي. خو بيا يې پرېکړه وکړه چې کارخانه په لنينګراد کې پاتې شي. ځکه چې د کارخانې محصولات د جبهې لپاره اړين وو او جبهه هم د کارخانې شاوخوا وه.

لنينګراد د جګړې له هماغه پيله د الماني ځواکونو لخوا کلابند شو، خو د لنينګراد هستوګنو په مېړانې له خپله ښاره دفاع کوله. د لنينګراد کلابندي ۹۰۰ ورځې دوام وکړ. د ښار د برېښنا برجونو کار نه کاوه. برېښنا او اوبه نه وې. کورونه ساړه او کنګل وهلي ول. په لنينګراد کې د خلکو خوراکي توکي خلاص او قات شروع شو. د شوروي ولسونو له خپل توان سره سم د لنينګراد له خلکو سره مرسته کوله. د خوراکي توکو ګاړي په ژمي کې د لادوژسکي سيندګي پر کنګل تېرېدل. خو المانيانو تل سيندګی بمباروه، نو ښار ته د خوراکي توکو لېږدول ستونزمن وو.

د ۱۹۴۱ ـ ۱۹۴۲ کال په ژمي کې انجينير کيروشين د لنينګراد د نورو هستوګنو په شان يخني او ولږه زغمله، خو خپل کار ته چې هېواد يې ورته اړتيا لرله ادامه ورکوله، بې له دې چې شته ستونزو ته پام وکړي.

يوه شپه، يوه بجه، له پستخانې څخه کيروشين ته تليفون وشو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ملګری کیروشین! ستا لپاره له مسکوه یوه کڅوړه خوراکي توکې راستول شوي دي. راشئ او کڅوړه واخلئ.

کیروشین یوه ګړۍ وروسته په خپل کور کې کڅوړه خلاصه کړه. په کڅوړه کې دا شیان وو: د تورو سوخاري وړو ډوډۍ، دوه کیلو کوچ، دوه کیلو بوره، مېده شوي غنم، څو قوطې ټینګ شیدې او ۳۰ بستې ښه خواږه. کیروشین په کڅوړه کې په لیک پسې وګرځېد، خو لیک نه یې و نه موند. کیروشین ګمان وکړ، دا کڅوړه ورته کوم دوست استولې ده. هغه په مسکو کې ډېر دوستان لرل. کیروشین لږ په فکر کې لاړ:

ـ دا زما لپاره ډېر دي، خو مهمه نه ده، یو څه به یې نورو دوستانو ته ووېشم. لومړی نفر چې په فکر کې یې راغی، مور یې وه. رښتیا هغه چېرې ده؟ بوډۍ مور یې «وارونژ» ښار ته د خپلوانو څنګ ته لېږدول شوې وه. کیروشین تر دې وخته پورې، یوازې یو لیک له خپلې مور تر لاسه کړی و. مور یې حتماً په ښه شرایطو کې ژوند کاوه، خو خور یې په څه حال کې وه؟ د کیروشین خور د جګړې مخکې د لنینګراد په انستیتوت کې انګریزي ژبه تدریسوله. د جګړې پر مهال له انستیتوت سره غازان ته لېږدول شوی وه. څلورکلنه لور تانچکا هم ورسره وه. خاوند یې د جګړې په لومړنیو ورځو کې جبهې ته تللی و. خور یې دې خوراکي توکو ته اړتیا لرله. کیروشین تابیه وکړه له پیلوټه وغواړي چې دا کڅوړه په زاغان کې د هغه خور ته ورسوي. کښېناست او خپل خور ته یې خط ولیکو:

«سلام ګرانې آنا! په مسکو کې دوستانو زه یاد کړی یم او راته یې یوه کڅوړه خوراکي توکي رالېږلي دي. پرېکړه مې وکړه چې له تا سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویشم. یوه برخه تا او تانچکا ته درلېږم. غوښتل مې ډېر درواستوم، خو ته په خپله پوهېږې چې پیلوټان غټې کڅوړې نه قبلوي، ځکه ډېر کسان غواړي خپلې کڅوړې ولېږي. نو د دې لپاره مې یو کیلو کوچ او ۲۷ بستې خواږه درولېږل. موږ په لنینګراد کې کلابند یو او بمبارېږو. ما داسې یو څه اختراع کړي دي، چې د فاشیستانو ډېر بدې راځي. له دې اختراع سره په یو کال کې دننه دولت دوه میلیونه روبله سمپولی شي. اوس هم یو څه زما د ژوند او د لنینګراد په اړه واوره...

لیک ډېر اوږد و. کیروشین لیک له کڅوړې سره د پوځ قرارګاه ته ویوړ او آشنا ډګرمن ته یې ورکړ. ډګرمن له کروشین څخه لیک او کڅوړه واخیستل او وې ویل:

ـ ډېر ښه، ټول شیان به سم کړم. په دوو ورځو کې زاغان ته الوتکه ځي، ستا امانتی به واستوم.

دومره وخت لا اوښتی نه و، چې په زاغان کې د کیروشین د خور د کوچنی کور ور وټکول شو. تانچکا لا بیده وه. آناپاولوونا نوې له خوبه پاڅېدلې وه. په بیړه ور ته راغله او ور یې خلاص کړ. ځوان پیلوټ کوټې ته راننوت او سترې مه شي یې وکړل.

ـ وبخښئ، که تېروتی ونه اوسم، تاسو آناپاولوونا ریا بینیا یاست؟

آناپاولوونا ځواب ورکړ:

ـ هو، په خپله یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلوټ وویل:

ـ ښه نو داسې ښکاري چې تېر وتی نه یم. ما له لنینګراد نه تاسو ته یوه کڅوړه راوړلې ده.

ځوان یوه کوچنی کڅوړه له خپل لاسي بکسه راوویستله. پر کڅوړې لیکل شوي وو:«د آناپاولوونا‌ریا بینا لپاره.»

آناپاولوونا تپوس وکړ:

ـ که مهرباني وکړئ راته ووایئ چې دا کڅوړه د چا لخوا راستول شوې ده؟

ـ څه ویلی نشم،یانې نه پوهېږم.

ـ کڅوړه چا درکړه؟ شاید ورور مې، انجینیر کیروشین؟

ـ د پوځ په قرارګاه کې یو ډګرمن ما ته راکړه.

ـ سمه ده، شاید په کڅوړه کې لیک وي؟

ـ په خپله کڅوړه خلاصه کړئ او وې ګورئ، شاید دننه یې کوم لیک وي.

آناپاولوونا کڅوړه خلاصه کړه، خو لیک په کې نه و. پیلوټ وویل:

ـ احتمالاً چې لیک به یې راستولی وي، خو زموږ د الوتکې ماشین په لاره کې ناڅاپي خراب شو. مجبوره په هوایي ډګر کې راکښته شوو، چې ماشین یې جوړ کړو. ناچاره مو ځینې شیان، د لیکونو د بکس په ګډون د الوتکې له ډیګې راوویستل او په هوایي ډګر کې مو پرېښودل. ما تلګراف کړی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکونه دلته راولیږي. د پیلوټ له تللو وروسته آناپاولوونا د ډېر وخت لپاره په فکر کې ډوبه شوه:«دا کڅوړه ورته چا رالېږلې ده؟» اول یې فکر وکړ چې ورور یې، انجنیر کیروشین راستولې ده خو آناپاولوونا پوهېده چې په لنینگراد کې قات دی او احتمالاً چې ورور یې له کارخانې سره سیبري ته لېږدول شوی وي او نور په لنینگراد کې نه وي. آناپاوولونا د خپل ورور وروستی لیک دوه میاشتې وړاندې تر لاسه کړی و. نو نه پوهېده چې ورور یې په لنینگراد کې پاتې شوی دی.

آناپاولوونا یوځلي د خپل هغه دوست په یاد ولېده، چې په سیبري کې ژوند کاوه. فکر یې وکړ چې دا کڅوړه هغه رالیږلې ده. آناپاولوونا د دې ډالۍ په تر لاسه کولو ډېره خوشاله شوې وه، له ځان سره یې فکر وکړ:«هو، په دې دنیا کې مهربانه خلک شته، دا ځومره ښه او په زړه پورې ده، چې داسې زړه سواندي او خیر غوښتونکي خلک شته، هغه خلک چې تل نورو ته د کمک لپاره چمتو دي او تل د خپلو دوستانو په یاد دي.»

آناپاولوونا په خپله هم یوه مهربانه او خیرغوښتونکې مېرمن وه. هغه ته یې مور تر ټولو نژدې او گرانه وه او همېش یې د هغه په اړه فکر کاوه. آناپاولوونا پرېکړه وکړه چې خواړه خپلې مور ته ولېږي.

لس ورځې وروسته آشنا پیلوټ راغی او آناپاولوونا له هغه هیله وکړه، چې د خوړو بسته یې مور ته ورسوي. آناپاولوونا د خوړو درې بستې ځان او تانچکا لپاره یوې خوا ته کړې او پاتې ۲۴ بستې یې په یوه امانتي کڅوړه کې کېښودې او پیلوټ ته یې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې، پیلوټ د آناپاولوونا د مور د هستوګنې ښار ته الوتنه وکړه. بوډۍ، چې ناستاسیاپروخوروونا نومېدله، د پیلوټ تودهرکلی وکړ او د بستې د راوړلو لپاره یې مننه وکړه. پیلوټ یې تر څنګ کښېنو او د خپلې لور په اړه یې ترې پوښتنې وکړې. پیلوټ ورته وویل چې د لور، آناپاولوونا ژوند په غازان کې بد نه دی، خو د خپل ورور فیودور یاولویچ په اړه ډېره اندېښنه لري. ځکه نه پوهېږي چېرې دی. آناپاولوونا فکر کوي ورور یې سیبري ته لېږدول شوی دی. بوډۍ، چې په ځیرتیا د پیلوټ خبرو ته غوږ وه، وې ویل:

ـ نه، فیودور یاولوویچ په لنینګراد کې ژوندکوي. ما هم فکر کاوه هغه سیبري ته لېږدول شوی دی. خو درې ورځې مخکې یو بوډا کارګر له لنینګراده دلته راغی. هغه زما له زوي سره په یوې کارخانې کې کار کوي. بوډا راته وویل چې زوي مې لا په لنینګراد کې کار کوي.

پیلوټ له بوډۍ خدای پاماني واخیسته او لاړ. ناستاسیاپروخوروونا پوهېده چې فیودور یاولوویچ په لنینګراد کې سخت ژوند لري او ولږه کاږي. مور یې پرېکړه وکړه چې خواړه هغه ته ولېږي. بوډا کارګر ښایي تر یوې اونۍ پورې لنینګراد ته ستون شي. بوډۍ تصمیم ونیو چې له هغه هیله وکړي خواړه د هغې زوي ته ویسي.

بوډۍ خپل زوي ته ولیکل:

«ګرانه فیودور سلام، زه پوهېږم چې په سخت وضعیت کې یې. په دې وروستیو کې آنا راته خواړه رالېږلي دي. خو زما د بوډۍ په کار نه راځي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسته تا ته درلېږم. په ځان دې پام کاوه، ته لا ډېر کلونه مخې ته لرې، زما په هکله اندېښنه مه کوه....»

لیک بشپړ و. څو ورځې تېرې شوې. یوه ورځ لس دقیقې د کار پیلېدو ته پاتې وې چې بوډا کارګر، چې لنینګراد ته راستون شوی و، د فیودوریاولوویچ کیروشین کوټې ته راغی او د مور لیک او بسته یې د هغه په مېز کېښودل. فیودور بسته خلاصه کړه او په حیرانتیا یې وویل:

ـ خواږه؟! هو، دا خو هماغه خواږه دي!

کله چې یې کارګر ته وویل چې څنګه خواږه له هغه ښځه خور ته او له خور ښځه یې مور ته او له مور ښځه یې بېرته دې ته رارسېدلي دي، کارګر په حیرانتیا وویل:

ـ عجیبه ده! حیرانونکې ده چې ان په داسې سختو ورځو کې خلک یوبل نه هېروي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**